چي څنګه هم څوك دطغیان ، کفراودشرك لاراختیارکړي ، له هغي لحظي نه الله (ج) وورسره حساب پیل کوي، ترڅوچي دکاملي مواخذي اوهغه ټاکل شوي موده راورسیږي . " وانذرهم یوم الازفة اذالقلوب لدي الحناجرکاظمین " وویروه دوي له هغه ژرراتلونکي ورځي نه ، دقیامت ورځ لري مه ګڼي الله (ج) چي دعذاب له پاره کومه ورځ ټاکلي، هغه لري مه ګڼي هغه به ډیرژرراځي، هغه ورځ چي زړونه به ستوني ته رارسیدلي وي، کاظمین غواړي داخپل غم تیرکړي اوزړونه به بي حنجروته رارسیدلي وي، دخوف اودویري هغه کیفیت چي کله هم دانسان زړه، انسان داسي محسوسوي، چي زړه بي نورحنجري ته رارسیدلي اوددي کوشش کوي چي هغه وته ووځي ، پرسي به غالبا کله دخوف اودویري داسي حالت راغلي وي، الله (ج) فرمایي چي له هغي ورځي نه چي ژرراوسیدونکي ده اودخوف اودویري داحالت به بي چي زړونه به ستوني ته رارسیدلي وي اوهریوبه ددي کوشش کوي، چي هغه بیرته ننه باسي، داخپل غم بیرته تیرکړي، " مالظالمین من حمیم ولاشفیع یطاع " نه به وي دظالمانو له پاره کوم ګران اوصمیمي دوست ، چي دهغوي دمرستي لپاره راووڼدي شي ، دهغوي حمایت وکړي ، په دنیا کي خوتاسره همداطمع اوامیدوه چي کیداي شي څوك ستاسي حمایت وکړي، ستاسو مرسته وکړي، اوپادمرستي اوحمایت په امید تاسودکفراوشرك لارغوره کړي اوله ایمان نه مو انکارکړي، هلته به دظالمانو له پاره حمیم نه وي، " ولاشفیع یطاع " اونه دغسي شفاعت کونکي چي دهغه منته کیږي ، خبره بي منل کیږي دظالمانو له پاره به په هغه ورځ ولي اونصیر نه دي، حمیم اوشفیع به نه وي، نه به څوك دهغوي شفاعت کولي شي ، نه به څوك دهغوي مرسته کولي شي، الله (ج) فرمایي چي ظالمان دهرڅه له تائیدنه محروم دي " مالظالمین من نصیر " " وماللظالمین من حمیم ولاشفیع ایطاع " اونه به وي ظالمانو اوستمګرانو لره کوم حمیم دوست اونه کوم شفاعت کوونکي، چي دهغه منته کیږي، " یعلم خائنة الاعین وماتخفي الصدور " الله (ج) پوهیږي دسترګوپرغلا حتي هغه هم له الله (ج) نه پټ نه دي، چي په غلاسره کوم نظرآچوي نوهمغه دغلانظرهم له الله (ج) نه پټ نه دي، هیڅ څه دالله (ج) نه پټ نه دي، وماتخفف الصدوراوهغه څه چي په سینوکي بي پټ دي . هغه هم خداي (ج) ته څرګنددي اودسترګوهغه دغلانظر هم الله (ج) ته څرګنددي اوله الله (ج) نه پټ نه دي، " والله یقضي بالحق " والله (ج) په حق سره قضاوت اوفیصله کوي، دهغه حکم ، قضاوت اوفیصله په حق سره ده ، هغه ذات چي هیڅ له هغه نه پټ نه دي، نودهغه پروراندي به څوك شفاعت څنګه وکړاي شي ، شفاعت خودهغه چا په وړاندي کیږي ، چي له څه نه خبرنه وي اویوڅوك راشي دیوچاسفارش کوي دهغه واسطه کیږي اودهغه هغو بنیګنوته چي دده له نظرنه پټي دي ، ورته بي متوجه کوي، په دي ترتیب دهغه شفاعت اوسفارش کوي، هغه خداي (ج) چي هرڅه ورته څرګنددي هیڅ ورنه پټ نه دي ، دهغه پروراندي به څوك شفاعت څنګه کوي، دظالمانو لپاره به په هغه ورځ شفیع نه وي، شفاعت شته خودالله (ج) له اذن نه بعدداودهغه چاپه واسطه چي الله (ج) ورته اجازت ورکړي اودهغه چا له پاره چي الله (ج) غواړي چي دهغوي په هکله شفاعت وشي اوالله (ج) دهغوي په هکله شفاعت ومني، خودظالمانو له پاره به دقیامت په ورځ نه دوست وي اونه شفاعت کونکي ، چي منته بي کیږي ، ځکه له الله (ج) نه هیڅ پټ نه دي . هرڅه هغه ته څرګنددي . دالله (ج) فیصله په حق مبتني ده . " والذین یدعون من دونه لایقضون بشي " اوهغه کسان چي الله (ج) نه پرته بي عبادت اوپرستش کیږي کمك ته رابلل کیږي "لا یقضون بشي" په هیڅ شي باندي قضاوت نه کوي، یعني اصلا دهغوي په اختیارکي دحکم اودفیصلي کولو واك نشته ، اوهغه پرهیڅ فیصله کوي، یعني الله (ج) په حق سره فیصله کوي، خوله الله (ج) نه پرته چي نورڅه دوي په عبودیت نیولي، دهغوي عبادت اوپرستش کوي، هغه به هیڅ قضاوت کیږي، یعني اصلا دهغوي په لاس کي دفیصلي اختیارات نشته . دفیصلي اودحکم اختیارهغوي ته ورکړاي شوي نه دي، اختیارات ټول له الله (ج) سره دي . " ان الله هوالسمیع البصیر " یقینا چي همدا الله (ج) اوریدونکي اولیدونکي ذات دي، باید مطمئن اوسي، چي ستاسو فریادونه اوري، ستاسو دعاګاني اوري، ستاسو پرحالت عالم دي ، بصیردي، ستاسولره هغه سمیع اوبصیرذات دي ، دهغه فیصلي به هم پرحق مبتني وي،

ځکه هغه له هرڅه نه واقف دي، هغه سمیع دي چي چادګناه خبره کړي، هغه بي اوریدلي، چي چادخیرخبره کړي، هغه بي اوریدلي، هغه ددعاګانواوفریادونو اوریدونکي دي اوهغه دانسان په حالت اوکیفیت بینا،لیدونکي اوبصیردي .

" اولم یسیروافي الارض فینظرواکیف کان عاقبة الذین کانوامن قبلهم کانوا هم اشدمنهم قوة واثارا في الارض فاخذهم الله بذنوبهم وماکان لهم من الله من واق " آیاپه ځمکه کي ونه ګرځیدل ترڅووګوري " کیف کان عاقبة الذین کانوامن قبلهم " څنګه ؤ پاي اوعاقبت دهغوکسانوچي له دوي نه دمخه وو، " کانواهم اشدمنهم قوة " تردوي په قوت اوزورکي زیات وو، "وآثارا في الارض" اودآثارو اونښولو جهته هم چي په ځمکه کي پرېښي دي . د قوت په لحاظ هم تردوي شدید وو ، اوپه تمدن کي هم تردوي دمخه وو . په ځمکه کي چي له دوي نه کوم آثارپاتي شوي دي ، ښکلي ، قصرونه اودتمدن یادګار له دي لحاظ هم تردوي دمخه وو . " فاخذ هم الله بذنوبهم ، خوالله (ج) دخپلوګناهونو په وجه ونیول، که څه هم هغوي دقوت له لحاظ شدید اوټینګ وو اوپه تمدن کي هم تردوي دمخه تللي وو ، خوپه ګناه کي پریوتي وو، دګناه په وجه الله (ج) مواخذه کړاي شول، "وماکان لهم من الله من واق ، اونه ؤ دوي له پاره دالله (ج) له عذاب نه دژغورني له پاره کوم وقایه کونکي او ساتونکي ، بیاداسي څوك پیدانه شول ، چي دوي دالله (ج) له عذاب نه وژغوري، په توله هستي کي داسي څوك نه پیداکیږي چي داګناه کاران اومجرم عناصر دالله (ج) له عذاب نه وژغوري . په قرآن عظیم الشان کي ، ځاي پرځاي همداویل شوي چي داخلك دي تاریخ ته رجوع وکړي، په ځمکه کي دي وګرځي اوتردوي دمخه قومونو حالات دي وګوري، چي هغوي دکفرلاراختیارکړه ، دپیغمبرانو له دعوت سره هغوي مخالفت پیل کړ خوکه څه هم هغوي په تمدن کي مخکي وو اودقوت له لحاظه بنه شدیدوو، قوي اونیرومند وو، ولي عاقبت دالله (ج) پرعذاب اخته شول، تاسووګوري چي دهغوي عاقبت، انجام اوپاي څنګه ؤ ، څنګه الله (ج) دخپلوګناهونوپه وجه ونیول ، او دالله (ج) عذاب پرهغوي نازل شو، تاریخ ګواهي ورکوي دتیرو دغومتمدنواوقوي قومونو حالات وګوري ، چي دپیغمبرانوسره دمخالفت په وجه اوله حق سره ددښمني په خاطرهغوي له کوم انجام سره مخامخ شوي، " ذالك بانهم کانت تأتیهم رسولهم بالبینات فکفروا فاخذهم الله " داچي الله (ج) هغوي مواخذه کړل اوداسي څوك او څه پیدانشول چي دوي دالله (ج) له عذاب نه وساتي دابه دي خاطرؤ چي پیغمبران به ورته راتلل.کوم پیغمبران چي ددوي له پاره لیږل شوي وو، ددوي په قومونوکي مبعوث شوي وو ، دوي ته به راتلل له بیناتو سره ، څرګندي نښي به بي راوړي .

دغسي دلایل چي دهغوي ددعوت په حقانیت ګواهي اوشهادت ورکوي، دهغوي شخصي ژوندهم په دي ګواهي ورکوله چي دوي په حقه دي اودهغوي دعوت هم داسي ؤچي په یوره دلائلو باندي مبتني ؤ هرڅوك په دي پوهیده چي دادعوت حق دي . پیغمبران له بیناتو سره راتلل ." فکفروا " پس دوي دي بیناتو اودپیغمبرانو په نسبت کفروکړ، " فاخذهم الله " نوالله (ج) هغوي ونیول ، " انه قوي شدیدالعقاب " بیشکه چي دغه الله (ج) ډیر زوووراودعذاب سختونکي دي ، دهغه عذاب اوعقاب اونیونه سخته اوشدیده ده ، پس هغوي دکفرلارغوره کړه ، قوي اوشدیدالعقاب خداي (ج) هغوي په کلکه ونیول ، مواخذه بي کړل ، اودالله (ج) عذاب پرهغوي نازل شو، داخو په عامه توګه الله وفرمایل ، چي تاریخ په دي ګواهي ورکوي، تاسي دتاریخ صفحي واړوي اووګوري دتیرو هغومتمدنو اوقوي قومونو انجام اوعاقبت څه ؤ، چي له پیغمبرانو سره بي مخالفت کړي، کله چي هغوي په ګناه کي پریوتي اودکفرلاره بي اختیارکړي، دالله (ج) عذاب په هغوي نازل شوي ، اوس ددي له پاره یوه عملي مثال وراندي کوي . دحضرت موسي علیه السلام په داستان کي دفرعون سره دهغه کشمکش یوعملي تاریخي مثال دهمدي حقیقت دثبوت له پاره وراندي کوي فرمایي " ولقد ارسلنا موسي بآیاتنا وسلطان مبین " یقینا چي موږ ولیږه موسي علیه السلام دخپل قدرت له دلایلو سره ، اوله څرګندحجت اوبرهان سره ، هغه ته موږ څرګند آیاتونه ورکړل، دغسي معجزي چي دهغه ددعوت پرحقانیت ګواهي ورکوي، دغسي اوچت شخصیت چي هرڅوك پردي پوهیږي ، چي داپه حقه دي له اخلاقي ، فکري اوعملي لحاظ دهغه په دعوت کي دغسي څرګندي نښي وي، چي هرباضمیره انسان په دي اعتراف کوي چي ستادعوت په حقه دي، اوداپیغمبریه حقه دي، هغه ته موږ څرګندي نښي ورکړي، اوڅرګندحجت اوبرهان ، چي له آیاتونونه کیدي شي مراد همغه احکام وي، چي حضرت موسي علیه السلام ته ورکړشوي دي اوله سلطان مبین نه هغه معجزي وي، چي موسي علیه السلام ښودلي دي، په هرصورت موږ موسي علیه السلام ولیږه له خپلوایاتونو سره اوله څرګند حجت اوبرهان سره ، له موسي علیه السلام سره بل څه نه شته نه وسایل لري، نه قومي ملاتړلري ، نه پوځ لري ، نه امکانات لري، نه دځمکي په سرکوم پشتي بان او حامي لري، هغه صرف له آیاتونو اونښوسره له یوه دعوت له یوي نظریي اوفکرسره دقوم طرف ته تللي دي، له هغه سره بل څه نشته، دیوکتاب حامل دي، دقوم طرف ته تللي " الي فرعون وهامان وقارون " دفرعون ، هامان اودقارون طرف ته . " فقالواساحر کذاب " پس دوي وویل جادوګر اودرواغ جن دي . ددري ولو طرف ته تللي، فرعون چي اقتدار بي په لاس کي دي، دمصرودځمکو اودښتمنیو ځان مالك ګڼي، اود الوهیت اوربوبیت دعوي کوي، وایي له مانه پرته بل الله نه لري، زه ستاسو ترټولو اوچت اوسترورب یم، دمصر نهرونه اودځمکي اوښته منټي بي زمادي، اومصریان بي په غلامي کي نیولي وو، فرعون دمصرواکداراوهغه جابر زمامدار فرعون طرف ته . چي اقتداربي په لاس کي دي اودهامان طرف ته دفرعون وزیر ، ددي نظام لپاره مفکر هغه چي خلك متوجه کوي دانظام توجیه کوي . له فکري لحاظ خلك دي ته برابروي، چي دانظام ومني اودي ته منقاد او تابع وي، دهغه پرخلاف قیام ونه کړي، هرنظام دغسي یونظریي ته هم ضرورت لري، دزمامدارانو په څنګ کي دغسي مفکرین هم په کاردي، چي دانظام توجیه کړي، خلك دهغه منتي ته منقاد اوتسلیم کړي، دقارون هغه دشتمنیوخاوند چي هغه ته دومره ثروت اوسرمایه ورکړاي شوي ، چي حتي دخزانو ګنجیان بي یولوي جماعت نشي حمل کولاي، هغه دشتمنیو خاونددي ، ګوري ددري قوتونو لوري ته دفرعون ، هامان او قارون طرف ته چي پرمصرباندي حاکمه طبقه فرعون او دهغه دربار یان اوملګري، که داهغه دي چي په فکري لحاظ ددي رژیم مرسته اوتائید کوي اوکه ثروت اوسرمایه بي په اختیارکي دي، داچي فتنې ګاني ورکوي درژیم په فکري لحاظ ملاتړکوي، هغه ته زمینه سازي کوي، داوري قوتونه دموسي علیه السلام مقابله کوي، موسي علیه السلام دمصرطرف ته تللي خودي ددري ولو پرخلاف له " فرعون ، هامان اوقارون "داولي هم په ترتیب یادي شوي ، په دعوت کي باید داتسلسل مراعات شي، لومړي وله چي باید دهغي پرخلاف قیام وشي، دا همغه وله ده چي په فرعون کي دلته تمثیل شوي ، یعني داقتدارخاوندان هغه زمامداران اوحکمرانان چي پراجتماع باندي حکومت کوي، دعوت باید ترټولو دمخه دوي ته متوجه وي، جبهه باید دهغوي پرخلاف خلاصه شي، په دعوت کي باید دادمختلفو جبهاتو تسلسل مراعات شي، څوك چي داتسلسل مراعات نه کړي، هغه اشتباه کوي، هغه یوناکام داعي دي دي پر ځاي چي هغه رومبي مهمه اوموثره جبهه انتخاب کړي اودهغه پرخلاف لګیاشي ، په دوهمو دریو ثانوي جبهاتوکي ځان مصروفوي ، هغه اشتباه کړي، ګوري حضرت موسي علیه السلام ددري طبقو پرخلاف لیږل شوي، خوهغه ته بي دادرجه بندي کړي لومړي فرعون بیا هامان بیاقارون اوقرآن عظیم الشان په تفصیل سره ښیي چي دقارون سره دموسي علیه السلام کشمکش حتي دفرعون له غرقیدونه وروسته پیل شوي اوتاسو ته پیغمبرعلیه السلام په دعوت کي هم وګوري، چي هغه سود دمکي له فتحي نه بعد تحریم کړي، یعني اقتصادي اصلاحات پس له هغي راغلي ، چي رژیم نسکورشوي اودعوت کامیابي ته رسیدلي دي، ددعوت دکامیابي نه بعد اقتصادي اصلاحات شروع شوي، په دي ترتیب باید داوري جبهي درجه بندي شي اوپه دعوت کي دهغه تسلسل مراعات شي، په لومړي قدم کي باید درژیم اوحاکم نظام پرخلاف دزما مدارانو اوداقتدار دخاوند انو پرخلاف باید جبهه پرانستلاي شي ، په دوهمه اودریمه ثانوي جبهاتوکي باید ځان مصروف نه کړي هغه دعوت ګرچي په دریمه اودوهمه جبهه کي ځان مصروفوي ، هغه اشتباه کوي، هغه یوناکام داعي دي، ډیرکسان تاسوګوري چي په ډیروفرعي مسائلوکي به ځان مصروف کړي، دعاي بعدازسنت ، رفع الیدین ، آمین بالجهر قرائت خلف امام اوامثال ددي اوداډقبرونو پرخلاف مبارزه پرقبر بیرغونه ولاړ دي، ګوري په دغسي ثانوي، بعدي اوفرعي مسائلو ځان مصروفوي ، په کاردادي چي دقبرونو په ځاي ترټولو دمخه باید دقصرونوپرخلاف مبارزه وشي ، هغه کسان چي دقصرونوپرخلاف دڅه ویلوجرئت نه لري، له هغوسره همیشه سازش کوي، قبرونه چي څوك دهغه مدافع نه شته او له هغونه کوم خطردوي ته متوجه نه دي، نه بي زنداني کولاي شي، نه بي اعدامولاي شي، دهغوپرخلاف مبارزه ډیره آسانه ده . دغه کسان چي په دویمه اودریمه جبهه کي په ثانوي اوفرعي مسائلو کي ځان مصروفوي ، اساسي اوبنیادي مسائل پریږدي ، لومړي جبهه چي په کاردي دعوت ګرترټولو دمخه باید پرهغې ترکیزوکړي اودهغې پرخلاف دمبارزي جبهه پرانیزي ، هغه هیروي اشتباه کوي، تاسي که دحج په دوران کي هم دحج مناسکو ته غوروکړي، اسلام موږ ته هلته جمرات ښیي ، چي باید دري جمري (لویه ، متوسطه او وړه وویشتلاي شي په اوو تیږوباندي ، اسلام موږ ته وایي چي په لمړي ورځ باید دغه دري جمري چي یوبه بل پسي واقع دي له دوي اومتوسطي نه باید انسان تیرشي اودریمي ته ځان ورسوي لوي او ستري ته اوهغه ووهي اوبیا دوهمه دریمه ورځ باید مسلسل دري سره ووهي داتسلسل باید دمبارزي په دوران کي مراعات شي ، هلته عملا موږ ته داتمثیلوي ، حج ټول اسلام دي په حج کي ټول اسلام تمثیل شوي دادجمرووېشتل هم حتي موږ ته همدغه حقایق په ګوته کوي، چي باید دعوت ګرپه خپله مبارزه کي مختلفي جبهي درجه بندي کړي، خپل دښمنان باید درجه بندي کړي ترټولوخطرناکه ، مهمه اواساسي جبهه باید په لومړي ځل کي پرانیزي او ترکیز پرهغه جبهه وکړي، په ثانوي اوفرعي جبهوکي ځان مصروف نه کړي ، کیداي شي نظام دهغه پرخلاف دوهمه اودریمه جبهه پرانیزي ، خودي نباید ځان په دي جبهو کي مصروف کړي، بلکي هغه اساسي جبهي ته متوجه شي اوخپل ټول قوت پرهمغي باندي متمرکز کړي، الله (ج) فرمائي چي موږموسي علیه السلام ولیږه له آیاتونو اوڅرګندحجت اوبرهان سره، دفرعون اوهامان اوقارون طرف ته ، په لومړي ځل کي هغوي وویل . " فقالواساحرکذاب " دوي وویل داجادوګراودرواغجن دي، هغه چي څه وایي دادروغ دي، داچي باید ددي درواغجنو اله ووعبادت اوپرستش پریښودلاي شي، صرف دیوالله (ج) عبادت وشي، داچي دا نظام به نسکوریږي ، دکفر، فسق اوظلم اظهام وخیم اوخطرناك دي، داچي دایمان خاوندانو ته به ځمکه په میراث ورکول کیږي، دځمکي خلافت به دوي ته حواله کیږي، دوي به دځمکي دټولو شتمنیووارثان ګرځي دادروغ خبري دي، هسي تاسي دوکه کوي اوداساحراو جادوګردي، داپه دي معني لکه څنګه چي تاسودمصریه ښاروټوکي ګوري، جادوګرانودکاتوته پرانیستلي اویوه تماشاخلکوته ښیي ، په پاي کي هم څه ترلاسه کوي اوبیسي غوښتي، موسي علیه السلام همدغسي له دي جادوګرانویوجادوګرګڼي اوبایي مراد دادي ، داچي دموسي علیه السلام ددعوت نه خلك متاثره کیږي اویه هغوکي بنیادي تغییراوانقلاب راځي هغه دوي په جادویاندي تعبیراوه ، داچي قرآن عظیم الشان موږ ته ښیي ساحران دموسي علیه السلام مقابلي ته رابلل کیږي فرعون وایي چي، ولي دموسي علیه السلام پیروي اواطاعت کوي، ولي دخپلو دغوساحرانو پیروي نه کوي، هغوي دمشرانوپه حیث نه نیسي، په هغوي پسي اقتداء نه کوي، باید ساحران راغونډکړودموسي علیه السلام اودساحرانو ترمینځ باید مقابله وشي، که هغوي غالب شول دموسي علیه السلام پرځاي ولي ددغه ساحرانواوجادوګرانو تقلیدنه کوو، اوبه هغویسي اقتدا نه کوو خوکله چي ساحران په دي پوهیږي چي موسي علیه السلام په حقه دي، ایمان راوړي، خپل ایمان څرګندوي، فرعون همدغه کسان چي دموسي علیه السلام مقابلي ته بي راغونډکړي اوهغوي ته بي داطمع ورکړي چي که هغوي دموسي علیه السلام پرخلاف په دي خپله مقابله کي بریالي شول تودډربارمقرب به وي اودهغوي له پاره به ستراجر اوپاداش وي تطمیع کړي بي دي . فرعون راغونډو کړي، دموسي علیه السلام پر خلاف دفرعون په اشاره مقابله کوي، ولي کله چي هغوي ایمان راوړي بیابي فرعون په دي تهدیدوي چي زماله اجازي اوحکم دمخه موایمان راوړ، اوس ویه ګوري چي له تاسوسره څه معامله کیږي ستاسولاس اوپښي به دیوبل پرخلاف قطع کوم ، په دارپه موځړوم . خودغه ساحران چي ایمان بي راوړي دایمان په وجه په هغوي کي سترانقلاب اوبدلون

راغلي دفرعون ددي تهدید اوتخویف په ځواب کي وایي باك بي نشته " اناالي ربنا لمنقلبون " یقینا چي موږ دخپل رب طرف ته خامخاورتلونکي یو، پس اوس هغوي له مرګ نه نه ویریږي اویري باور لري، چي دمرګ په نتیجه کي دخپل رب طرف ته دروسي . اووایي انانطمع ان یغفرلنا ربنا خطایانا ان کنااول المؤمنین " اوس هغوي هیڅ طمع نه لري دځمکي پرسرله هیڅ چانه طمع نه لري صرف له یوالله (ج) نه طمع لري، هغه هم معنوي تلوسه، نه مادي طمع، طمع اوتلوسه بي داده چي الله (ج) هغوي ته ببښنه اومغفرت وکړي، داچي دپیغمبرانو په دعوت کي دومره قوت اوتاثیردي چي څوك دادعوت اوري اویه هغه ایمان راوړي ، په هغه کي دغسي تبدیلي اوانقلاب راځي دبښمنانودغه تحول ، انقلاب اوتبدیلي سحراوجادو ګڼه اوویل به بي چي داساحر اوجادوګردي ، که دهغه له دعوت نه خلك متاثر کیږي ، په خلکوجادو اوسحر کوي .

" فقالوا ساحرکذاب " دبي ویل چي داساحر اوجادوګر دي په لومړي ځل کي به ددعوت ګرپرخلاف دغسي دتبلیغاتو جبهه پرانیستل کیږي ، باید دي ته ځان تیارکړي دهغه پرخلاف به ددروغوتبلیغات، اتهامات ، افتراآت اوالزامات وي چي دهغه حیثیت اواعتبار ختم شي، په سیاسي لحاظ هغه ترور شي، په اجتماع کي دهغه شخصیت ختم شي، خلك په هغه اعتماد اوباوروونه کړي لومړي ځل چي دعوت ګرله کوم مشکل سره مخامخ کیږي، هغه ددښمنانو ددغه درواغجنوتبلیغاتوجبهه ده ، چي دهغه پرخلاف پرانستل کیږي، باید دي ته تیاراوآماده اوسي ، له چانه چي دښمن دخطراحساس ونه کړي اودهغه پرخلاف تبلیغات ونه کړي، پرهغه اعتماد اوباورپه کار نه دي حتما دښمن هغه ته طمع اوامیدساتي ، لومړي جبهه چي ددعوت ګرپرخلاف پرانستل کیږي، هغه دروغ جنوتبلیغاتو جبهه ده " فلما جاء هم بالحق من عندنا قالوا اقتلوا ابناء الذین امنوا معه واستحیوانساء هم " پس کله چي راغي (موسي) دغوقبطیانوته په حقه سره " من عندنا" زموږله خوا " قالوا اقتلوا " وي ویل چي په قتل ورسوي " ابناء الذین آمنوا معه " ځامن دهغوکسانوچي ایمان بي راوړي " وستحیوانساء هم " اوښځي بي ژوندي پریږدي ، کله چي حق څرګندشو دادعوت

دغه خلکو ومانه اویه اجتماع کي بي تحقق ومینده اوفرعون داخطر احساس کړچي په مدار، مداردددي دعوت لن خوریږي اوګڼات خلك دهغه پرمحورراغونډیږي اوهغه عملا تحقق وموي، نواوس چي هغوي احساس دخطروکړ، فیصله بي وکړه چي اوس یوازي په تبلیغاتو څه نه کیږي، باید وژل ، قتل اودهغوي دختمولوله لاري نه دادعوت سرکوب او وټکولاي شي . دوي ویل " اقتلوا ابناء الذین آمنوا معه " ووژني ځامن دهغوکسانوچي له دوي سره دي اوایمان بي راوړي، داځکه چي دحضرت موسي علیه السلام اصلي قوت هغه ځوانان وو ، چي پرهغه بي ایمان راوړي و په دي خاطرفرعون اوملګري بي ددي فیصله کوي چي دایه قتل ورسوي قرآن عظیم الشان فرمایي چي دموسي علیه السلام له پیدایښت نه دمخه هم فرعون دبني اسرائیلو دزامنو دوژلوفیصله کړي وه، اوددغو وژلو دوجهي په هکله هم دمفسرینو ترمینځ اختلاف دي خوترټولو غوره توجیه داده چي پس فرعون غوښتل، چي بني اسرائیلو شمیرزیات نه شي اوبه دي ترتیب هغه قوت ونه موسي اوزژیم اونظام ته تري خطر متوجه نه شي، دوي باید ضعیف وساتي ، چي شمیربي زیات نه شي په دي خاطر هغوي فیصله کړي وه چي دهغوي زامن په قتل ورسیږي اوچي کله موسي علیه السلام خپل دعوت پیل کړنبي اسرائیلو پرهغه ایمان راوړیه مدار، مداردهغه تحریك قوت ومینده ، فرعون دخطر احساس وکړ بوځل بیا فرعون دافیصله وکړه چي دمومنانو زامن باید په قتل ورسوي ځوانان بي باید قتل کړي اوښځي بي ددي له پاره باید ژوندي پریږدي چي هغوي مینځوته په خپلو دربارونو کي ضرورت لري، چي دمینځویه شان دهغوي په دربارونوکي خدمت کوي " وماکیدالکافرین الافي ضلل " اونه وو دکافرانو داکید اومکر " الافي ضلل " مګر ګمراهي . فرعون داتوقع درلودله چي دوژني ، تهدید اوتخریب په نتیجه کي به خلك وویروي اودموسي علیه السلام دملګرتیاڼه به هغوي منع کړي، اویه دي ترتیب به داتحریك وټکوي، ولي دهغه تنایج منفي وو ، هرڅومره چي هغه تشدد کاوه همدومره دي تحریك قوت مینده ، ددي تشدد اوخشونت نتایج ددوي پرضدوو ، ددي پرځاي چي له دي نه هغوي مطلوب نتایج ترلاسه کړي برعکس دهغوي په ضد نتایج بي ورکړل

. "وماکیدالکافرین الافي ضلل" اونه ووکافرانو کیداومکرمګریه ګمراهي، کي دکیداومکریه ګمراهي کي دپریوتلو معني داده چي ددي پرځاي چي هغوي خپل هدف ته ورسیږي ددوي پرضداوددوي په خلاف نتایج راووتل ، چي کله هم ددوي داکیدبي نتیجي پاته شوله تهدید اوتخویف سره هم هغوي ونشوتوانیدلاي تحریك وټکوي، " وقال فرعون ذروني اقتل موسي ولیدع ربه " فرعون وویل ماپریږدي چي موسي په قتل ورسوم او هغه دي خپل (رب) کمك ته راوبولي ، اوس باید ترووړشي ، ددي دعوت اصلي قیادت باید تروورکړي اویه قتل بي ورسوي، پدي ترتیب داتحریك وټکوي چي تبلیغات بي اثره پاتي شول ، دهغه دملګرویارانو دوژلو اودقتل په نتیجه کي هم داتحریك ونه ټکول شو، آخري مرحله دهغوي دمخالفت ترور اوقتل دي، باید شخصیتونه تروورکړي اویه قتل بي ورسوي

دتحریك قیادت باید په قتل ورسوي، په همدي خاطرفرعون وایي ، ماپریږدي چي موسي (ع) په قتل ورسوم اوهغه دي خپل رب مرستي اوکمك ته راوبولي " ولیدع ربه اني اخاف ان یبدل دینکم " زه ویریږم چي ستاسو دین بدل نه کړي . ستاسو داغوره دین اودژوند داغوره طریقه چي ستاسو دپلارنیکه نه درته په میراث پاته ده دابدله نکړي په همدایوه ناحیه کي ګوري چي پورته فرعون له الله (ج) نه انکارکوي اووایي چي موسي خپل رب مرستي ته راوبلي، خوهمدغه له الله (ج) نه منکر فرعون دموسي علیه السلام په مقابله کي ځان ددین حامي ښیي، زه ستاسوپه دین باندي ویریږم زه ستاسو ددین حامي یم، ویریږم چي مبادا په دین کي تبدیلي راته شي ، داهم دمبارزي یوستیج اومرحله ده . تبلیغات ، وژل اوټرل ، تهدید اوتخویف دشخصیتونو ترورااوداچي په آخري مرحله کي به دښمن ددین دحامي په بڼه کي تیارزکوي ځان به ددین حامي ښیي اوخلکوته به وایي ماسره دخپل اقتدارغم نه دي، زه په دي نه ویریږم چي زما اقتدارته څه تهدید اوخطرمتوجه دي زما ویره له دي نه ده چي "ستاسو داغوره دین بدل نه شي، ګوري نن نجیب همدغه وایي نن نجیب هم ددین حامي دي، خطابي په بسم الله شروع کوي، په من الله التوفیق بي ختموي اوپه آیاتونو باندي استنادکوي اووایي چي که

زه له اقتدارنه لاس واخلم دتوري خونریزي ویره ده اوویریږم چي په ملك کي نوره خونریزي ونه شي ، هغه هم له دي نه ویره لري، قرآن عظیم الشان همدغسي فرمایي :" اني اخاف ان یبدل دینکم اوان یظهرفي الارض الفساد " قرآن له دي لحاظه معجزه ده ، ګوري چي په اجتماعي لحاظ دهغه تحلیلونه څومره دقیق دي دمبارزي دامختلف پراوونه څنګه په دقت سره په ګوته کوي، ددښمن مختلفي جبهي چي ددعوت ګرپرخلاف بي پرانیزي اوله مختلفومراحلونه دښمن اودهغه دمقابلي نوعیت څیري، آخري ستیج اومرحله همدغه ده ، چي دښمن به ددین دحامي په بڼه کي ددعوت مقابله کوي، " اني اخاف ان یبدل دینکم اوان یظهرفي الارض الفساد " اوداچي په ځمکه کي فسادڅرګندنه شي، هغه لوي مفسدچي دبني اسرائیلو زامن وژني اولوني ورته ژوندي پریږدي، دقتل ، وژني او دوینې تویېدلو لوي عامل او سترمفسد ګوري، داهم دمصلح په بڼه ځان څرګندوي چي سوله غوارم ، زه له دي نه ویریږم چي په ځمکه کي فساد خپورنه شي ، زه له دي نه ویریږم چي ستاسوداغو ره دین بدل نکړي، مجاهدین وهابیان دي، رژیم اوس همدغه وایي که نه ؟ هغوي غواړي دخلکوداغوره مذهب بدل کړي اوس نجیب دمذهب حامي او ددین حامي دي اوهغه سوله غواړي دادجنګ سترباعث چي هغوي جنګ زموږ پرملت تحمیل کړي، هغوي روسي پوځونه افغانستان ته راوبلل ، هغوي دکودتاګانوله لاري قدرت تر لاسه کړ. پرافغان ولس بي داجنګ تحمیل کړ، اوس ګوري چي هغه دسولي مدافع دي، هغه ددین حامي دي، هغه خلکوته همدغه وایي چي زه په دي ویریږم چي ستاسو داغوره مذهب اودین بدل نه کړي، اوموږ سوله غواړو، مجاهدین دسولي دښمنان دي، هغوي اشراردي ، فسادغواړي ، هغوي پرجنګ ټاکیداوترکیز کوي فرعون هم همدغسي ویل . " اني اخاف ان یبدل دینکم اوان یظهرفي الارض الفساد" زه له دي نه ویریږم چي ستاسو دادین بدل نه کړي اویایه ځمکه کي فسادڅرګندنه شي، " وقال موسي اني عذت بربي وربکم من کل متکبرلایومن بیوم الحساب " موسي علیه السلام وویل چي زه خپل اوستاسو رب ته چي دټولورب دي پناه وړم "من کل متکبرلایومن بیوم الحساب" له هرمغروراومتکبر انسان نه چي په یوم الحساب باورنه لري، پرآخرت ایمان ونشتوالي په وجه په هغه کي تکبرراپیداشوي لویي کوي او دخپل اقتدار له ویري پرآخرت ایمان نه لري اوتکبرکوي ، زه له دي نه خپل رب اوستاسورب ته پناه وړم ، امکان لري چي داخبري پداسي حالت کي شوي وي چي موسي علیه السلام دفرعون په دربارکي وي اوددي احتمال هم شته چي فرعون خپلو دربارپانوسره داخبره کړي وي اوموسي علیه السلام ته دارسیدلي وي چي کله داخبره هغه ته رسیدلي وي نو هغه ویلي چي زه له هرمتکبر نه چي پرآخرت اویوم الحساب باورنه لري خپل اوستاسو رب ته پناه وړم ، ګوري موسي علیه السلام په خپل رب اعتماد اوتوکل لري اوهغه په وسایلو، امکاناتو اویه پوځ باندي اعتماد اوبروسه نلري ، بلکي توکل اواعتمادبي پرخداي (ج) دي ، خپل الله ته پناه وړي اوله هغه نه استعانت غواړي " وقال رجل مومن ، من آل فرعون یکتم ایمانه اتقتلون رجلا ان یقول ربي الله وقد جاء کم بالبینات من ربکم " اویومومن کس دفرعون دآل نه چي خپل ایمان بي پټاوه وبي ویل کله چي فرعون له خپل ملاء او دربارپانوسره په دي باب مشوره کوي، چي اوس ماپریږدي چي موسي علیه السلام په قتل ورسوم . ځکه له ماسره ویره ده چي ستاسو داغوره دین بدل نه شي اویه ځمکه کي فسادخپورنه شي،

نوربیا

شهادت
بیانگر عقاید و آرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر : ریاست ارشاد و فرهنگ
سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظر هیئت تحریر
تلفون : ۶۲۷۸۹ - ۴۰۲۲۴ پشاور
پوست بکس (۱۴۶۵) یونیورسټي ټاون - پشاور

ارشاد نبوي

هرکه را خداوند به کاري بگمارد و او در عوض حل ورفع حوايج ومشکلات مردم ، کناره گیري کرده خود را پنهان نماید ، خداوند نیز در هنگام احتیاج وتنگدستي ، او را ضایع گذارد.
(ابوداود وترمذي)

شهادت

درولایت بادغیس چارتن از ملیشه هاي جنایتکار هلاك وچهارده تن آنها زخمي گردید

بادغیس :
طبق گزارش رسیده از قرارگاه ظفر ولسوالي قادس به اداره روزنامه شهادت مجاهدین قهرمان قرار گاه متذکره بتاریخ ۱۵ سرطان ۱۳۷. هه ش تحت قوماندة برادر قاضي نظرمحمد عملیات تعرضي را بالاي مراکز ملیشاي دولتي به انجام رسانید که چند روزطول کشید. درجریان این جنگ چهارتن از ملیشاي جنایتکار هلاك وچهارده تن آنها زخمي گردید.
هم اکنون بین مجاهدین وملیشاي دولتي جنگ به شدت ادامه دارد.
درطول عملیات فوق دوتن ازمجاهدین مؤمن ما به مقام رفیع شهادت نائل گردیده اند.
پاینده باد یادشهداي گرانقدر ما

اسلامي نړۍ داسلامي کانفرانس په هینداره کي

غونډه په استانبول کي سرته ورسیدله ، ددي کلني روایتي غونډي پریکړه لیك دروان عصر دځپلو مسلمانانو لپاره دومره ډېر راښکونکي نه ؤ، پدي ماناچي داسلامي نړۍ هیله داوه ، چي داپریکړي باید دمسلمانانو دزخم ځوړلي بدن پوره نمایندګي وکړي، اوداسلامي غونډي نړیوال دریځ هم باید دومره تونډ اوتیزوي، لکه کومه لاره چي دهغوي په وړاندي داسلام دښمنانو نیولي ده ، خومتاسفانه پدي کانفرانس کي دځیني غړیو هیوادوهغه انعطاف منونکي موقف تر تنقیدلاندي راتلي ، چي دیهودو په وړاندي یې ځپل کړي، اونه دفلسطین دستریابلم په باب کوم لازم تصمیم ونیول شو. دفلسطین مسئله تش پدي نامه له پامه وغورځول شوه ، چي ګرندي فلسطینیانو په خلیج کي دچامرسته کړي، حال داچي دامسئله تردي ډېره لوړه ، اواسلامي حیثیت لري ، دکشمیر دجدوجهد په باب پاځیدلي کشمیرته ددري کسیزهیئت ورلیږل ، چي سمدستي یې دهندي جارحیت له خواپه ورتګ دهندیځ لګرلواعلان وشو، اودخواشیني وړلاداچي همدومره وخت وروسته به په بنګله دیش کي دهمداسي یوي غونډي دجوړیدو پروخت دهغي دنتایجو په باب غورواوخبرنه کیږي . خوکه هندي مظالمو اودکشمیري مومنانو قرباني ته وکتل شي، تودابره ډېره ګرمه اوباید په نړیواله سطحه په ډېرجدیت مطرح شي . همداراز دعراق په باب وویل شوه چي باید کویټ له دجنګ تاوان ورکړي، اوهم باید دملګروملتونو دپریکړومراعات وکړي، چي اقتصادي بندیزونه هم پکي شامل دي، خو دي کانفرانس عراقي یرغل له امریکا یې جارحیت هم لوړوګاڼه ، اودعراق دیشیړي وړاني مسئولي امریکالورته تش په خوله هم څه ونه ویل شو . هغه څه چي دافغانستان په باب باید وغندل شي ، ددي غونډي منسوبینو هم دلویدیځ ښکیلاك غوندي دېراخ تاداوي حکومت غږ وکړ، اوپدي توګه یې ځپله چغه داسلام له دښمنانوسره همنواکړه ، موږنه پوهیږو، داسلامي هیوادونو دبهرنیوچارو وزیرانودپراخ بنسټیزي حکومت پرځاي ولي داسلامي حکومت نوم وانخستلي شو . چي دشهیدپالونکي اوحماسه زیږوونکي مجاهدملت وروستني ارمان دي . ورځه ، که لویدیځ یاقصدي اویا پدي باب دکومي غلط فهمي ښکاروي، نو دمسلمانانو په صفت خوهغوي له دي ستري هیلي سره خبر دي ، چي انشاء الله افغاني مومن ملت به یې پخپلي ستري قرباني ترآخري پړاوه رسوي .
زموږله خواخوږي وکه غوښتنه داده چي که اسلامي هیوادونه پداسي کلنیو غونډوکي هم خپلي زړې جدي مطرح نه کړي، اودنړیوالو پام ورته راوانړولي شي، نوپدي صورت کي به یې حیثیت اورعب نورهم ټکني ، او ښکیلاکګر وځواکونو ته به دنوروجرا ٔت فرصت ورکړي . چي دنتایجو یدمسئولیت به یې دهمدوي پرغاړه وي .

دولت انگلیس ارسال موادکیمیاويِ به عراق راتأییدکرد

وزیرتجارت وصنایع انګلیس فاش ساخته است که یك شرکت انګلیسي سال ګذشته اشتباها مقداديري سیانورسودیم به عراق صادرکرده است درنامه ایکه وزیر مذکور به کمیته پارلماني تجارت وصنایع نوشته گفته است موماه مي گذشته یعني سه ماه پیش از اشغال کویت توسط عراق بالغ برسیصدویازده کیلوگرام سیانور سودیم به یك کارخانه آهن سازي درعراق صادر شده است .
وزیر تجارت انګلیس گفت : این امر درنقض قوانین صورت نپذیرفته اما شرکت صادرکننده هنگام صادرکردن مواد ضوابط لازم را نیز رعایت نکرده است زیه وزارت تجارت وصنایع انگلیس هشدار لازم را که براي صادرات برخي مواد کیمیاوي وازآن جمله سیانورسودیم لازم است نداده است.
درگزارش که روز پنجشنبه وزیرتجارت وصنایع به کمیته پارلمان داد گفت : ازسال ۱۹۸۷ میلادي تا بحال هیچ ما ده ایکه بتواند بدولت عراق دراجراي پروگرام نظامي هستوي اش کمك کند صادرنشد.

دولت ایران دست داشتن درقتل " شاهپور بختیار" راردکرد

پولیس فرانسه میگویند، که ممکن یك ازقاتلان شخصي باشد که درزمین بختیاردرایران کارمیکند ویا آنها آ زادانه رفت وامد داشت .

دولت ایران تکذیب کرده است که درقتل دکتورشاهپور " بختیار " نخست وزیر پیشین ایران دست داشته است .
خبر گذاري ایران به نقل ازسفارت ایران درپاریس گزارش داده است که ممکن است آقاي بختیار توسط گروهي به قتل رسیده باشد که مخالف بهبود روابط ایران وفرانسه بوده . درهمین گزارش آمده است که این قتل ممکن است در اثر دعوي هاي داخلي گروه هاي تبعیدي ایراني بوده باشد پولیس فرانسه بدنبال چهارنفر ایراني میگردد که درارابطه بااین قتل مورد سؤظن هستند جسد بختیار روزپنجشنبه همراي جسد یکي از دستیارانش درمنزل وي درحومه پاریس پیدا شد هردو نفر به ضرب چاقو بقتل رسیده اند .

صدراعظم جاپان عازم چین شد

صدراعظم جاپان امروز وارد پیکنگ مي شود از سال ۱۹۸۹ به اینطرف که جنبش طرفدار دموکراسي درچین سرکوب گردید این اولین بازدید یك رهبر کشور عمده صنعتي از چین میباشد.
توشیکي کایفو صدراعظم جاپان قبل ازعزیمت گفت : درنظر دارد راجع به اینکه چگونه جاپان میتواند چین رادرحرکت بسوي عصري سازي کمك کند مذاکراتي انجام دهد.

ددارالعلوم (احیاء العلوم) په مدرسه کي یوه انتخاباتي غونډه جوړه شوه

چارسده :
دروان کال دزمري دمیاشتي په پنځه لسمه نیټه په چارسده کي داحیاء العلوم په دارالعلوم کي دتنظیم طلبه دیني لخوا یوه شانداره غونډه جوړه شوي وه .
په دغه غونډه کي یو زیات شمیر علما و طلبه وو دقرآن عظیم الشان څوآیاتونه ولوستل وروسته ورور امین الله دقرآن اودحدیثو په رڼاکي ګټوري خبري وکړي دغونډي په وروستي برخه کي انتخابات دطلبه وو ترمینځ پیل شول چي ددغي انتخاباتو په ترڅ کي ورور غلام محمد دناظم په حیث او ورور محمد ادریس دمعاون په حیث انتخاب شول او دانتخاباتو دنتایجو داعلانولو نه وروسته غونډه ددعا په کولو سره پاي ته ورسیده.

مجاهدینو په هلمند کي دملحدرژیم ۱۷ تنه پوځیان وژلي اواته تنه یي ټپیان کړي دي

هلمند - میډیا :
دهلمند ولایت مؤمنو مجاهدینو د ۱۳۷. هه ش کال دزمري دمیاشتي په څلورمي نیټي دلشکرګاه دښارپرامنیتي پوستواوپوځي مرکزونو ددرنو وسلو ډزي کړي چي ددغو ډزو په ښیرکي دکابل رژیم ۱۷ تنه عسکر اوملیشه وژل شوي او ۸ تنه ټپیان شوي دي .
خبر زیاتوي چي مجاهدینو په دي جګړي کي دوژیم د ملیشه قواو دیوکنټك دقوماندانۍ ودانۍ له منځه وړیده همدا راز ددښمن دهاوان پوسګرهم تخریب شویدي .
مجاهدینو ته ددغو جګړو په بهیر کي کوم تاوان ندي رسیدلي .

دوبرادردریك وقت به شهادت رسیدند

برادران مجاهد فضل الله ودادالله ولد

عصمت الله بیك دریك خانواده متدین در علاقه داري سیغان ولایت بامیان دیده به جهان گشودند.
این دو برادر بعدازوقوع پیوستن کودتاي سیاه وننگین هفت ثور برضد رژیم دست نشانده روسهاي جنایتکار دست به جهاد مسلحانه زدند که درجریان جهاد این دو برادر درعملیات هاي متعددي اشتراك فعالانه ورزیده اندوتعداد زیادي ازافرادي دشمن را به جهنم فرستاده اند.
این دو برادر در سال گذشته به روزعید اضحي به عمر بیست ودو سالگي وبیست وسه سالگي ذریعه یك

ماین کارگذاشته شده دشمن به مقام رفیع شهادت نایل آمدند.
یاداین شهداي گرانقدر ما گرامي باد.

برادرحمیدالله به شهادت رسید

برادر مجاهد حمیدالله فرزند اسدالله خان مسکونه علاقه داري سیغان ولایت بامیان دریك فامیل متدین چشم به جهان گشوده وبعداز بمیان آمدن رژیم منحوس تره کي دست به جهاد مسلحانه زده ودرین مدت طولاني دربسیاري ازعملیات علیه رژیم ملحد شرکت نموده اند وضربه هاي شدیدي رابه دشمن وارد نموده بود. بالاخره برادرمذکور به تاریخ ۱۲ /۴ / ۱۳۷ درعرض راه ارگون به اثر انفجار یکي از مین هاي دشمن به درجه والاي شهادت نایل گردید.
روحش شاد ویادش گرامي باد.

دجلال آباد دښارمحاصره ورځ په ورځ

چي لوګي اوداورلمبې یې دلري ځایونو څخه ښکاریدي .
دغه رازمجاهدینو دزمري په ۱۲ نیټه دلغمان ولایت په دوسرکه کي دخیرخیلو په سیمه کي ددښمن پرمراکزوقاتحانه بریدوکړ، مجاهدین وتوانیدل چي پدي جګړه کي له دښمن نه (۱۱) عرادي زغروال ټانکونه د BM12 دوه دستګاوي د BM41 یوه دستګاه یې شمیره ټوري وسلي اوتوپونه ددرنې اوسپکي وسلي دزیاتومهماتو سره په غنیمت ونیسي .
دغه راز رپوټ زیاتوي چي دلغمان دسرخکانو دپله په پوستواوددروتني په طرف دمجاهدینو دجلال آباد شمال خوا دګمبیري دښتي،خیوي اوعدل خیلو تنګي له خوا دوژیم پر قواوو مرګوني ګوزارونه پیل کړیدي.
دوژیم دالوتکو دوحشیانه انتقامي برید ونو له کبله دزمري په دولسمه نیټه د خوګیانیو دحملي په کلي کي دري ښځي شهیداني اوڅلورتنه نورکلیوال ټپیان شویدي .
دیوبل خبر له مخي مجاهدینو دزمري د میاشتي په څوارلسمه نیټه دلغمان دوسرکي دسرخکانو دملیشه و قرارګاه فتح کړي اوزیات شمیر ملیشه قواوي وژل شوي اوټپیان شوي اونور په شاتښتیدلي دي.
دغه راز مجاهدینو دسروبي ولسوالي لرختیز لوري، په وریښمین تنګي کي دمشعلي پوستي اته تنه ګلم جم ملیشه وژلي ـ ـ .۲ تنه یې دیوميل پیکاماشینګني او (۵) میله کلاشینکوفونو سره ژوندي نیول شوي اوتقریبا سل تنه نورګلم جمانو دپیښي په وخت دکابل سیندکي ډوب شویدي.
دمشعل په ستري ستراتیژیکي څوکي سخته جګړه روانه ده .
همدا راز مجاهدینو دجلال آباد ښار دشمال اوغرب له خوا ددروټني په (۹) قرقي باندي دراکټونو بریدکړي چي په کي دوژیم دوي ستري پوځي دیپوګاني دزمري په څوارلسمه نیټه داوریه لمبوکي سوځیدلي اوله مینځه تللي دي چي داورلمبې یې له ورایه معلومیدي .
رپوټ زیاتوي چي مزدوررژیم دځپلو جټ الوتکو او ددرنو وسلو دډزو په وسیله د جلال آباد دلوېي لاري اوشاوخوا دمجاهدینو مرکزونه اوکلیوالي سیمي ترځپل سخت اورلاندي نیولي . ددغو وحشیانه بریدونو په اثر دروداتو په ولسوالي کي یوتن مجاهدشهید او دوه تنه تورټپیان شویدي.
دمجاهدینو دبریدونو لړۍ لاتراوسه هم روانه ده.
دمزدوررژیم دلاسپوڅو اوپوځیانو روحیه ډېره ضعیفه شوي اوده‌تیښتي لارلټوي.
****

په نیول شول کشمیرکي ۲۲ تنه هندي عسکروژل شوي دي

دزمري ۱۸ نیټه
په نیولي کشمیرکي پرون دآزادي غوښتونکو مسلمانانو اودهند اشغالګرو قواوو تر مینځ دتوپونو په ډزوکي لږترلږه نه تنه وژل شوي دي هندي مامورین وایي چي اوه تنه آزادي غوښتونکي مسلمانان اودوه تنه عسکر دپاکستان سرحد سره نیږدي دظفرخاني په کلي کي وژل شویدي.
دیل خبرله مخي دکنترول کرښې ته نږدي دکشمیري مجاهدینو اوهندیي پوځیانو ترمنځ په نښته کي ۲۲ تنه هندي عسکر وژل شویدي . په خبرکي راغلي چي اته تنه مجاهدین هم شهید ان شوي ، ویل کیږي چي دغه نښته هغه وخت پیښه شوه چي دهندي پوځ یومخبیر پوځ ته خبر ورکړي وچي په اړوسه تومي کلي کي مسلمان مجاهدین پراته دي ، له هندي امله هندي پوځ حمله وکړه خو موفقیت یې ترلاسه نه کړ.

دوقرارگاه ...

طي یك عملیات تعرضي مجاهدین بتاریخ ۱۲ اسد بالاي قلعه جمال (۲) ملیشه هلاك ویك نفر زخمي گردید ودرقسمت غرب زنده جان (۶) نفرکشته وهشت نفرازافراد رژیم زخمي گردید قرارراپورجنګ درمنطقه رباط و زنده جان میان مجاهدین وقواي رژیم ملحد کابل به شدت ادامه دارد.
واقع درمناطق کوه چهل ستون وقلعه کافر که درقسمت جنوبي ولسوالي زنده جان قراردارد حمله نمودند که دراثر آن هر دو قرارگاه فتح، تعدادي ازعساکر هلاك وبازخمي گردیده ومجاهدین یك اندازه سلاح ومهمات ومواد لوژستیکي رابه غنیمت گرفتند.

ملك مزدور وفات شو .

په خواشیني سره موخبر ترلاسه کړ چي دننګرهار ولایت دبهسود و دزنګوپي دسیمي مجاهد شخصیت اوقومي مشر د ۱۳۷. هه ش کال دزمري دمیاشتي په شپږمي نیټي دمازدیګر په ۶/۳۰ بجو دهغي ناروغي له کبله چي وریښه شوي وه وفات شو.
ملك مزدورخان دخپلي سیمي دخلکو دیرالي او دمجاهدینو سره دهر اړخیزي مرستو په لاره کي ډېر زیارونه ایستلي. ملك مزدورخان له خپلي کورني سره دپیښور ښار د تاج آباد په سیمه کي دهجرت دڅوکلونو راهیسي استوګنه درلوده .
روح یې دي ښاد وي.

تبدیلي نام

برادر احمد سیر ولد محمد سرور ساکن ولسوالي قره باغ ولایت کابل فعلا مهاجر وفارغ التحصیل لیسه سیدجمال الدین ومحصل سال اول پوهنحي طب پوهنتون دعوت وجهاد اسم خود را به عبدالله تبدیل نموده است. از دوستان واقارب وي خواهشمندیم تانامبرده رابه اسم جدید شان بشناسند.

مخالفت حکومت عراق باپلان مطروحه شوراي امنیت ملل متحد

صدراعظم عراق مخالفت حکومت خود را باپلان طرح ملل متحد که فروش محدود نفت عراق را براي دلایل بشردوستانه اجازه میدهد تکرارکرده است.
سعدون "حمادي" میگوید : بموجب این طرح بغداد پول کافي نخواهد داشت تا احتیاجات اساسي مردم عراق رابرآورده سازد ومنابع عراق رادرتحت کنترول خارج قرارخواهد داد . پلان ملل متحد که در شوراي امنیت ملل متحد تحت غوراست به عراق اجازه میدهد که معادل یك ملیارد وششصدملیون دالر نفت خود را طي شش ماه آینده بفروش برساند این پول صرف براي ضروریات عاجل وغرامات جنك مصرف خواهد شد.

اعلان

قراریکه همه اطلاع دارند دورهفتم انتخابات حزب اسلامي افغانستان رسما گشایش یافت . به همین سلسله انتخابات درحوزه ۲۶ شهرپشاور که مناطق : حیات آباد - پورد - نعمت محل - سپین جماعت - تاون - جهانگیرآباد - آبدره رود - ارباب رود - تهکال بالا - تهکال پایان - صدر - گلبرك - نوتیه ومناطق حومه آن به استثناي کمپ ها رادربرمیگیرد انشا الله سرازیوم شنبه مورخ ۲۶ اسد سال ۱۳۷. هه ش الي ۲ سنبله ۱۳۷. هه ش به استثناي روزجمعه همه روزه دردفتر سیاسي حزب اسلامي افغانستان "مهمانخانه " سیاسي واقع آبدره رود برگذار میگردد.
اعضا وارکان حزب باکارت عضویت خویش همه روزه ازساعت ۸ صبح الي ۷ شام به آدرس فوق تشریف آورده وراي شانرا درصندوق انتخابات بریزند.

موږ په افغانستان کي ديوي شيبي لپاره هم غير اسلامي حکومت نه منو